عبدالغفور لیوال ۲۰۲۰/۰۸/۱۸

# افغانستان، خپلواکي او ښکېلاکي ځواکونه

د ښکېلاک، خپلواکۍ او افغانستان په اړه به درته د تاریخ تر سولېدلي تکرار ور هاخوا یوه خبره وکړم:

**ښه غوږ شئ!**

افغانستان د زاړه ښکېلاک لپاره ښکېلاکي هدف نه، بلکې د نورو هېوادونو (ښکېلاکي اهدافو) لپاره لاره او وسیله ټاکل شوې وه.

په بله ژبه، افغانستان یې د زریني مرغۍ ( هیندوستان) دروازه ګڼله او د لوی سیال ( روسیې) او منځني ختیځ د مزاحمو هېوادونو ترمنځ یوه حایله ریتاړه.

خونړي ښکېلاک موږ ښکېل نه کړو، یا یې ښکېل نه کړای شو، خو د خپلو ښکېلاکي خوځښتونو پر مهال یې سخت تر پښو لاندې کړلو، ویې وژلو او هېڅ یې پرمختګ ته پرې نه ښودو.

د افغان ـ انګریز درېګونو جګړو تر منځ منځ کله چې انګریزانو د افغانستان په بېلابېلو ښارونو کې حضور درلوده، د ودانۍ یوه خښته یې کېښنوده، یوازې یې عسکري قشلې د ځان لپاره جوړې کړې، افغانستان د دوی لپاره یو عسکرکوټ و او بس.

خو همدغو انګرېزانو په هیندوستان او نورو ښکېل کړیو هېوادونو کې د خپلو اقتصادي ګټو او زبېښاک لپاره رېل پټلۍ، بندونه، کرنیز بنستونه، پوستي سیستم، برېښنا، سړکونه، کارخونې، کانونه، بندونه، ښوونځي و پوهنځي جوړ کړل، د دې لپاره نه چې پر ښکېل کړیو ملتونو یې لورېینه وه، بلکې د دې لپاره چې یو خو دوی په دغو هېوادونو کې د پوځي حضور ترڅنګ ملکي ـ دولتي حضور هم درلود او بل دا چې د ښکېلاک( استعمار) اصلي هدف زبېښاک (استثمار) لپاره یې زېربنا په کار وه. کله چې دوی ووتل دغه زېربنا پاتې شوه او لاتراوسه د هغو هېوادونو اقتصادي تاداوونه دي.

اوس نو له ښکېل شویو هېوادونو سره د افغانستان توپیر ته ځیر شئ. ښکېلاک نه غوښتل یا یې نه شو کړای په افغانستان کې پاتې شي، ځکه یې دلته د ښه ژوند لپاره هېڅ بنسټ رغېدو ته پرېښنود. د پوهنې، تولید، پرمختګ او زېربنا مخالفت یې وکړ او دغه ښکېلاکي دود یې په میراث پرېښود. دوی د افغانانو له وینتیا، روښانتیا او مثبت بدلون څخه سخت وېرېدل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**پایله:**

د ښکېلاک دا تور میراث تر نن پورې پاتې شو، د افغانستان ستراتیژیک موقعیت لا هم هماغومره مهم دی، لکه په نولسمه پېړۍ کې چې و. ښکېلاک اوس هم غواړي په سیمه کې د خپلو ګټو لپاره افغانستان تر پښو لاندې کړي. دا یې اوس هم لاره او عسکر کوټ دی. دلته اوس هم د خپلو ځریو او کوکریو په مرسته د پوهې، پوهنې، سړک، رېل پټلۍ، پرمختګ، عصري ژوند، ښکلا، هنر، ښوونځي، برېښنا بند، کرنیزو بنسټونو، سمسورتیا، کارخونې، برېښنا او د انساني ژوند د شرایطو د ښه کېدو نور وسایل ویجاړوي.

هېوادوالو!

چې ښوونځي درسیزي، چې برېښنا در پرې کوي، چې سړک در ورانوي، چې برېښنابند درته په بمونو الوځوی، چې ستا ژوند او بلکې ښه ژوند کفر ګڼي، چې هره ورځ دې وژلو او وژل کېدلو ته هڅوي... دا هېڅه تصادفي نه دي، ریښه یې په تېر دوه درې سوه کلن ښکېلاکي میراث کې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ